# پښتونخوا

دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

۳ مه ګڼه       ۱۹۸۸ کال

# Pakhtoonkhwa

**Jahrgang./Vol.:1989 /2 Nummer/No.: 3**

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

## ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

## ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

**www.pashtoonkhwa.com**

**pashtoonkhwa@gmail.com**

**psdp@gmx.net**

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**

DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51   WEST GERMANY

**REDAKTION/ EDITORIAL BOARD**

ALI KHAN MASEED
HIDAYAT BANGASH
HABIB STOMAN
KHAN SAPI
SHAHJAHAN




# پښتونخوا

د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند خپرونه

ټوک ۲ ګڼه ۳

اګست ۱۹۸۸

JAHRG./VOL. No/No

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

سرلیکونه — مخ


| | |
|---|---|
| پښتنه ټولنه او باچاخان | ۱ |
| نوی زېری | ۱۸ |
| خپل عمل | ۲۰ |
| ځوان ته | ۲۰ |
| د جرمن د ټولنیزی اولسولی - ۱۲۵ - کالیزه | ۲۱ |
| د هجری مرکه | ۲۷ |
| رښتیا، رښتیا دی | ۲۹ |
| د ژوند سا | ۳۱ |
| د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د مشر ډاکتر کبیر ستوری سره مرکه | ۳۲ |
| سیل | ۳۵ |



خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTOONEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



ذمه وار:
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

ډوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 360 2472



د خپرونی جرګه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنګش
HABIB STOMAN حبیب ستومان
KHAN SAPI خان ساپی
SHAHJAHAN شاجهان

لیکونکی: علیخان مسود

# پښتنه ټولنه او باچاخان

د خدای بخښلی باچاخان د زیږیدو نیټه تقریباً ۱۸۹۰ ع کال دی. دغه نیټه تقریبي ده ځکه چې په دغه وخت کښې په پښتنو کښې د زیږیدو د نیټې لیکل رواج نه و. باچاخان هغه وخت چې خپلې سترګې د غم ځلې کله چې انګلیس د پښتنو په خاوره باندې منګولې ښخې کړې وې.



فخر افغان (۱۸۹۰ – ۱۹۸۸ ع)

د ده د پلار نوم بهرام خان او د نیکه نوم ئې سیف الله خان و.

دوی د پښتنو د محمدزي قبیلې ته تعلق لري چې هشتنغر پېښور کښې میشته دي. باچاخان په ماشوم والي کښې د معمول دیني زده کړې کړې وه. او په موریانی د دین تعلیم ګران و.

باچاخان خپله لیکلي دي چې زما نیکه به راته ویلي چې ښه جومات ته ځی چې مې شوم موری به عذاب کړې وه او چې لږ غټ شو لکه څنګه چې د ماشوم والي عادت وي باچاخان د چېل کښه د ښه غله وهله او د کلي د هغو د الوشاماني ترې اخستل چې مور به ئې ورته لیکی کړې وه.



ئې نه ورته دینی ځی بلکې ښوونځي ته ئې ورکړي چې تعلیم شه حاصل کړي. باچاخان به دوه میاشتې ورځي او دوه په دي کړي په منځ کښې به لاړی.

باچاخان هو په پرستش کښې د لامبو اجازت نه ورکولی او دي په دي چې لیکل چې باچاخان ته دی شنډ ورکړي. که چېرې ته هغه تري لیږلی نه وی چې باچاخان ئې د ښه قد ماوېشتی و.

باچاخان ابتدائي سبق خپل کلي کښې ویلي دي باچاخان د ماشوم والي نه غریب پسند طبیعت درلود او د خلقو د خدمت شوق ئې لرو.

څنګه چې باچاخان په داسي پښتنه ټولنه کښې لوی دی چې دغه ټولنه ورو ورو د مریدکه او لوی لوی کیفیتي شخ نه ماتیږي.

څنګه چې پېرنګیانو د ښمنی د غالبي له خوا اعلی ولی دوی په خپل ول باندی پسند باندي حمله کړله.

په ۱۷۵۷ ع کال کښې لاسي په لاسي جنګ وشو چې بنګالیانو ماته وخوړه که څه هم دغه ابتدائي وه خو پېرنګیانو لا پښه موقع نه وه.

په ۱۷۶۱ ع کال کښې چې احمد شاه بابا مرهټیان وټکول نو پېرنګي سره غرب جوړ شو چه اوس احمد شاه بابا مو د هغه نه و باتي.

لنډه څنګه احمد شاه بابا د لوړو مملکتو سره اخته و او پنجاب کښې سکانو بدامني جوړه کړې وه چې د پېرنګیانو او فرانسویانو ورسره لاس و چه احمد شاه بابا مشغول وساتي. په ۱۷۷۳ ع کال کښې د لوی احمد شاه بابا د مرګ نه پس څرګنګ



داسې لوی افغان پاتی نه شو چې د احمد شاه بابا میراث وساتي. د لوی ورنی جنګ او د شاه زمانو دوی او خیانت د افغان خائنو وقت لوی ته موقع په لاس ورکړه چې ځان غښتلی کړي.

د پښتنو سردارانو د خیانت په وجه کی نه پښتونخواه سکانو ته پرېښوده او دوی کابل ته په منهزمه لاړل او بیا د سکانو د وخت نه پس په ۱۸۴۹ ع کال کښې د پېرنګیانو وخت په پښتنو باندې شروع شو.

بیا رو رسته پېرنګی دومره غښتلی شو چې په ۱۸۹۳ ع کال کښې په زور سره افغانستان تقسیم کړ او پښتنانه ئې په دوه حصو اووېشل.

چې یوه حصه ئې مستقیماً وبله حصه ئې د خپل ایجنټ (Agent) په ذریعه غیر مستقیمه کالونی (مستعمره) وه.

کله چې په هند باندي حملې هیڅ د خیبر - ګومل - بولان او کرم درې کیدلې او دغه لوړې ځل و چې د هند له او لږ لاري قبضه شو.

څرنګه چې پېرنګی لږي ټوټه او نوي اقتصادی ایکي د ځان سره راوړي و لوګو دغه هند د ملکو او خاص د پښتنو لپاره نا اشنا خبرې وې.

پېرنګیانو په هند کښې د خپلې ژبې د ساري کلو فیصله کړې وه نو غتې غتې لوړی به د دوی سره وی خو پېرنګیانو له کم پولیس - سپاهیان - وارو افسران - دارو ماموین (کلرکان) اکثراً هندوستاني او بنګالیان و.

دوی به د پېرنګي د دلال رول لوبولو. پېرنګي د ځان سره خپل قانون راوړی وچه هند



لپاره بالکل نوی و. څرنګه چې پښتنو خپلې کشالې په پښتنو لوګه فیصله کولې دغه نوی قانون بالکل بل شی و.

څرنګه چې پښتنو قبایلي ژوند درلود لوڅکه د دوی ژوند ساده او د رواج - دوی او د چالاکۍ نه خلاص و.

کله چې پېرنګیان ښه غښتلي شول نو د دوه هم لاندې پښتونخواه په دري حصو تقسیم کړه چې لومړۍ حصه ئې برټش بلوچستان لوری وټوله - دوهمه حصه ئې قبایلي نوم ورکړ - او دریمه حصه ئې د بند ولیتي ضلع نوم ورکړ چه دغه دریمه حصه په کال ۱۹۰۱ ع کښې ځانته صوبه شوه چې پېرنګي ورته N.W.F.P شمال غربي هند صوبه ویل. دغه صوبه کښې پښتانه مستقیم د پېرنګیانو د قانون او پولیس لاندې راغله.

د پولیس وکه ماموری (کلرکي) که وکیل - دکاندار - دلال - دړندی - چېړاسی نه لوړ پورې خلک و چې د پېرنګي سره د پنجاب څخه راغلي و.

چې زیات ئې د پنجاب مسلمانان - سکان او هندوان وچه دوی به د پښتنو د ژبې نه نفرت کوو. او د پښتنو په ځای به ئې پنجابي - اردو یا هندي ویله. د غتلان ژبه انګریزي وه چې وکیلانو او د پېرنګیانو افسرانو به ویله. د پښتنو زړه قبایلي ټولنه چه د ژبناک نه خلاصه وه د اقتصادي - سیاسي - لیږ ئې شامراج سره خانځ شوه چې دوی سره ئې هیڅ علاج نه و.

پنجابیانو د پښتنو په کارو بار باندي قبضه وکړه د کاروبار ځای جوړ شوی شي نه دوی فیصله او دوی به خام مواد اخستل. دوی د دوکاندارانو د بنارونو

همدغه شان لوړنه کښې د باچاخان څرګن وه او هر ځای ئې لیدل چه ځکه کیدل . په دغه وخت کښې ټول هندوستان په قلاره ناست و او صرف او صرف پښتانه د پیرنګي خلاف جنګیدل هندوستانی یوځ د پیرنګي پښې ټینګولې پښتانه د چترال نه تر بلوچستانه پورې په جنګ لږيا و .

داسې وخت نه وه چه چا به نه او ریدل چه هغه دې غازیانو لښکر اوداوکړ .

د داسې وخت و چه پښتون معاشره په ماتیدو وه لا جوړه نه وه پښتون په خپل کور کښې بې کوره و .

پښتون جنګونه کول خو دغه زیات په قبایلي او علاقوي بنیادو بانډې و چه مونږ ته ګرم شو ایریدې ته ناست و چه منسوبو ته جنګ کاوه و نیرې به ناست و لیکن په لږ وخت کښې لږ حرکت نه و .

او د شمی پښتانه د مشرانو - کیږو د (عکس) په چکې کښې داسې لږ وخت و چه څه حالي نه و . لیکن پیرنګي د پښتنو لوړنه د هر طرف نه خرابه کړې وه .

په داسې معاشره کښې باچاخان څرګن شو باچاخان خپل قوم چه په داسې حال کښې لیدو لږ باچاخان به ډیر ژړل او لوی فکر ئې پرې کاوه .

اول سر کښې د باچاخان هم دا خیال و چه تعلیم یافته خلک که هغه د دین علم والا وی او که دنیاوی علم والا وی د ده سره مرسته وکړي .

خو دوارو د ئې تشې د خبرو میرانۍ وه . د عمل قدم ئې نه پورته کاوه .

باچاخان اول سر کښې ډیر د باباګان لیکې منلې وه او باچاخان په رهبرۍ چه دلته



نه علاوه د پښتنو په کلو هم قبضه کړې وه . او ورسره لیکو هم خپل لوټ مار شروع کړې و . پښتانه ئې د خدای په عزت اخته کړي و . د پاسه غم پیرنګي و او ملاتړي ئې - هندوستانۍ نه اجازت ورکړو چه څوک ئې غوښتل هغه به ئې کول او ورسره د پیرنګي خانان - لږابان - میاګان - ملاګان هم په شوکو لږ و .

د پښتنو کور کښې د بیخ کیشنې نه راوا خله تر عربي لږیسه چه ورته پرې ځکه ئې و .

پښتون په خپله د غربت - تر لوږ ولږه - بول اختلاف د جهالت په مرض کښې ډوب پروت و .

هیڅوک ئې غمخور نه و نه پیرنګي او نه هندوستان . لیکن ورکړي تا نه دا به خلک دووږ وو چه خدای دې خیر وکړه چه تاته دا به غوښتل سړی به ئې نا حقه پاشي کو .

د شوت اختلاف عام و دغه لوی لوبانډې پیرنګي ستړي پیچی کړې وه او غوښتل ئې چه پښتانه تباه کړي چه هیڅ دوی کښې د راز دکه جرئت پیدا نشي . پښتون چه نه ګټل هغه پیرنګي او پنجابي پرته خپلې وو . څه به د پیرنګي مالیه شوه څه به په حرمانه شو هغه څه به پاتې شوه هغه به هندوستان - پنجابي پولیس - عریضه نویس - د دعوې وکیلانو ته واخیسته .

د پښتون بچی به ورځ پاتې شو او پښتون د خپلې کشالو نه د چا هغه سره ګروکې ته ورتګ نه و . تعلیم نه و - تجارت نه و - کنکر نه وو - اجزاء نه وه تو به تیاره وه چه پښتون اولس پکې ژوند کاوه .



قوم خدمت لوی او یاد مرض ورکول د منلو کار نه دی دغه ورځې - میاشتې او کالو کار هم نه دی . دغه ته یکار دی چه ټول عمر ورکړی .

باچاخان ته دغه هم ډیره معلومه شوه چه هیڅوک ورسره کومک نه کړي په خپل سر ئې کړي او د خان نه په خپله بابا جوړ وي لږ بابا په دې رنګ هم دغسې هم مشول .

★ ★

خلک به فکر کوي چه باچاخان چرته د تشدد په لوړنه کښې غټ شو لږ ولې - باچاخان لږ یو ته لاس نه کړو چه د پیرنګي خلاف ئې راخیستې وي .

همدغسې باچاخان او لوی ولسي پښتنو مشرانو په منځ کښې فرق دی . باچاخان ته معلومه شوه چه تر څو پورې چه پښتون اولس اصلاح په کار ده . د پیرنګي پر ضد د لویک د جنګ نه زیات اصلاحي جنګ ګټور دی .

ملګو په دې چه پښتنو دغه لویک تش د پیرنګي په خلاف نه استعمالوي بلکه خپل ورور ئې هم پرې وژنو .

لږ باچاخان غوښتل چه د پښتون پولاس تش لویک نه بلکه تعلیم - کسب - تجارت - مینه - ورورولی او اتفاق ورکړي .

ولې تر څو پورې چه یو قوم جاهل بې اتفاقه - بې کسبه - بې کاره وي هغه په لویک عزتي مرقعي ګټه کولی شي خو مستقله ګټه نشي کولی . همدغه وجه ده چه باچاخان د لویک په ځای اصلاح کړ یک راواخیست . د باچاخان اصلاحات د ومره ډیر دي چه هر یو بانډې غټ غټ لوبه لیکل کیږي خو زه غواړم چه مختصر اولنۍ ئې بیان کړم .



١ - د مثال په توګه د پښتنو بچو ته د تعلیم ورکولو لپاره مدرسې .

٢ - پښتنو ښځو ته حقوق ورکول .

٣ - د پښتنو ژبې ته ترقي .

٤ - د پښتنو ژبې صحافت (ژورنالیزم) بنیاد اېښودل

٥ - د پښتنو شاعرانو او ادیبانو سره یو ځای کول . د ښه ادب بنیاد اېښودل . د مشاعرې رواج کول .

٦ - د ثقافت لپاره دوامی کول . د پښتنو موسیقۍ د ول او مشورې بیا راژوندي کول .

٧ - غریب خلک د خانانو او لږابانو څخه خلاصول .

٨ - د بدل خلاف کار . د ورورولۍ او اتفاق لپاره کار .

٩ - د کسب او کسبګرو لپاره کار .

١٠ - د تجارت لپاره کار . خپله د کورنۍ منلو جوړول .

١١ - غریب اولس ته سیاسي وړتیا ورکول . لیکن د زړه او د حق ورته ګټل . او داسې لږ بې شمېره کارونه باچاخان د خپل د قوم لپاره کړي دي .

اول سر کښې باچاخان د سیاست نه زیاته توجه د پښتون اولس د اصلاح سره لرله . خو پیرنګي په دې پوهه و چه پښتنو نه دغه مرضونه خلاص شي لږ ئې مونږ خیر نشته .

باچاخان خپله لیکي چه لږ څو لږ پیرنګي اخر تیره شو ولې چه تا دغه خبره څرګنده کړه.

باچاخان ورته ځواب کښې وویل چې پکار خو حکومت نه و چې دغه کار ئې کړی وی
چې حکومت ئې نه کړی او شی ئې زه کوم .

د وائی پیرنګی دویل چې که دغه پښتانه پوهه او منظم شی نو څه ضمانت دی چې
ستا د پیرنګی په خلاف استعمال نه کړی .

ما ورته دویل چې تاسو په ما اعتبار وکړی .

باچاخان ته به د پښتنو لوستو کسانو داسې ویل چې پښتو ژبه کښې څه نشته
نو څه ئې مونږه نه لیکو .

باچاخان به ورته دویل چې ژبه خو پخپله ځان نشی غوړولی همدا د ژبې ویونکو
ئې غوړوی . انګریزی ژبې ته پیرنګی کار کړیدی - فارسی ته فارسیانو
عربی ته عربانو - فرانسوی ته فرانسوی بالو او همداسی نورو . که چیرته -
پښتانه پښتو ته کار وکړی همداسې به د نورو په شان ښه ژبه شی .
ځکه چې خپله پښتانو خپلی ژبې ته ئې کار نه شو کړی بهانه ئې دا جوړه کړې وه .
چې پښتو کښې څه دی په حقیقت کښې پښتو کښې هر څه شته خو د پښتنو تعلیم یافته
خلکو کښې څه نشته .

باچاخان مرحوم ته معلومه وه چې ژبه مړه شی نو قام هم مړ کیږی . چې د چا ژبه
ئې وانخیسته هغه د هغوی په حساب شی .

باچاخان خپله پښتو ژبې ته ډیر زیات متوجه وه .

د باچاخان لپاره ژبه تشی د ابلاغ ذریعه نه وه بلکه ژبه اقتصاد - سیاست



کلتور - ادب او سیاسی بیداری وه . ځکه باچاخان وائی چې پښتو وایه
پښتو لوله پښتو کوه او پښتو لیکه .

باچاخان ویل چې د پښتو ژبې هیڅ غم نه و . نو لومړی کار ئې دغه وکړه چې پښتو
کښې د لیکلو لپاره خلک ئې متوجه کړل .

چې دوی ته خپل لیک لوست په پښتو کښې پکار دی .

دده په خپلو مدرسو کښې پښتو ژبې اول ځای موندلی و . او د باچاخان په
لاس جوړ شو مدرسو کښې شاګردانو پښتو لیکله او لوستله .

همدغه وجه وه چې ددې مدرسو شاګردانو وروسته د پښتو ادب کښې ډیر
لوی کار کړی وی . چې شاعران او لیکوالان ئې پیدا کړل چې دلته ئې نومونه تیرول نشی کیږی .

باچاخان لومړی سړی دی چې د پښتو ژبې ژورنالیزم بنیاد ئې کینښود .

چې هغه د پښتون رساله وه چې د پښتون قوم ته ئې جاری کړله .

باچاخان په 1919 ع کال کښې کابل ته تللی و او د غازی امان الله خان سره ئې -
خبرې کړی وی .

خو غازی په پښتو خبرې کولی نه شوی باچاخان ورته وویل چې دغه ډیره عجیبه خبره ده
چې تاسی په فارسی - ترکی او نورو ژبو خبرې کولی شی خو په خپله ژبه نشی کولی .

غازی امان الله خان دغه خبری ته متوجه شو او وروسته ئې پښتو ژبه زده
کړه . بیا چې څه وخت په 1924 ع کال کښې په جلال آباد کښې لویه جرګه وه -



غازی په پښتو خبرې کړې وې . او د باچاخان سره ئې بمبئی تاج محل هوټل کښې
په 1929 ع کال کښې خبرې په پښتو کړې وې .

چې څه وخت دی خپل هیواد ته هجرت ته مجبور شو او اول هغه وخت چې امان الله
د پښتون رساله ولیده نو ډیره اغیزه ئې پرې وکړه .

او خپلو حکومتی خلکو ته ئې امر وکړ چې دوی هم په پښتو ژبه اخبار را وباسی .
دوی هم غوښتل چې د اخبار نوم پښتون کیږدی .

خو امیر صاحب ورته وویل چې دا نوم نشته همدغه لی نوم دی .

نو دوی دغه پښتون غږ کړ چې له بده قسمته نه څه ګیو وروسته بیا د غازی
د تګ په وجه بند او ورک شه .

پخوا به هر یو خان ځانته یو شاعر ساتلو چې څه وخت به میلې وی بیا به خانانو
د خپلو لوګرانو او ساتلو شاعرانو شعرو کښې ګډون کاوه .

د هر کلی د خان شاعر به د بل کلی د خلکو پیغور کول چې د کوم خان شاعر به پرشو
نو هغه به کلی خانانو او خلکو به جنګ کاوه

چې بیا به دغه جګړی نسلونو ته وانه وی . همدغسې لویه میله کښې باچاخان
ترڅو د بل کلی د خلکو دلاسه وژل شوی و . خو قسمت ئې ښه و چې لږه شوی
باچاخان داسې ځنګړی کړی . ګڼی هغه کې تګ که به باچاخان لګیدلی وی نو شو به
ئې د ډیرو ورو شوی وی . نو همدغه وجه ده چې باچاخان دداسې شاعرانو
د شاعرۍ تشویق ته پاڅیدلو او هلکو ئې ورته کینول دوی وایه په واد خپل



کلام ورته پیش کړ او په دې شکل ئې شاعران د خانانو څخه خلاص کړل .
پښتانه ئې د جګړو نه خلاص کړل او د پښتو ژبې ئې د دولت منده کړه .
نو ښکاره ده چې همدغه لی تکی باندی ئې ټینګار نه وکړی ځکه د انګریزی ژبې پری -
اغیښتی شی . او په دې شکل ئې پښتانه شاعران په پښتنی لرګانه کښې د رانه کړل .
بیائی د شاعرانو مخ د ګل او بلبل پر ځای د پښتون قوم په عذاب ځلګی ته لګولی
ته را وګرځاوه . بیا پښتنو شاعرانو ملی شعرونه او انقلابی شاعری کوله چې
باچاخان د پښتنو د ادب بنیاد په شاهراه کیښود او د وطن قوم او
خلکو په خیر تمامیده .

یو هغه وخت و چې د شاعرانو په شعرونو به جګړې جوړیدلی بیا هغه لوی -
انقلاب راغی چې د شاعری به لټو ره نشوه . د خپل وروره سپکاوی په ځای د
پیرنګی په خلاف خپل قوم بیدار کړه . دغه بدلون چې راوسته دغه باچاخان و .
نو ځکه پیرنګی نشی شو چې ترپی ونه لیری دغه شاعران نوی تکالی نه په بل څه کار
نه د غمی اوښی د خپل قوم د غم او غلا ګهه سترګو ورې وانی . نو ددې نه امدومه
شوه چې دغه تیری ډیر زیات خطرناک دی . چې د هغه شاعر خوله چې تر پرونه
لیری نو مونږ په ګټه ده او نن ئې په مونږ لیټی راغولی ده .

دغه بدلون پیرنګی چیرته نه عملی شی . باچاخان په پښتو ژبه کښې د ډرامې
جوړولو لپاره خلک راګرم کړل . همدغه وجه ده چې پښتو ژبه کښې ډیر لوی لوی
ډرامه لیکونکی پیدا شو او د پښتنو ادب د ډرامو څخه ډک شو .

دې نه علاوه په پښتو ژبه کښې ډرامو ته د پښتنو خيال نه و. خو د باچا خان
د کار په برکت په پښتو ژبه کښې ډرامې ځای موندلو کړه.

چه داسې ليکوالي د ډرامې پيرنګي د ومرک و دخلا کړي او چه ماشومانو ئې هم قبول کړي وه.

مطلب دلته دا دی چه باچا خان حکيم مت و چه د يوه مرض علاج ئې نه کاوه بلکه
په هر محاذ کښې جنګيده که هغه سياسي و که کلتوري که ادبي او که
معاشي او اصلاحي و.

باچا خان خپل ټول ژوندون دېته وقف کړی و چه د پښتنو لپاره له هغه مرضونه
ورک کړي. د مثال په ډول د باچا خان د بدل خلاف خپل اصلاحي کار کاوه او پښتنو ته
ئې ويل چه خپل ورور ته خو تکړه ئې چه مړه ئې کړئ او د بل طرف نه چه د قوم دشمن
پيرنګي ستاسې په خوب او نامت دی او مړي کړي له ستاسې هيڅ غم ورته نشته.
دا ځکه چه تاسې په کورنۍ معاملو کښې بند ياستئ. لهذا د دشمنۍ لپاره هغه د شوق
او ذکر وخت هم نلرئ. باچا خان کوشش کاوه چه د پښتنو اولس پام د ذاتي
بدلونه ملي ګټو ته راواړي دی. باچا خان په دې پوهيده چه ترڅو پورې چه پښتون
د بدل په مرض اخته وي له دوی نه اجتماعي ژوند مشکل دی.

له هر ځنګه د بدل بنياد د تشدد براى تشدد دی له ځکه ورته باچا خان بله نقطه
ولګوله چه هغه عدم تشدد وه.

د پير محمد والي چه باچا خان د هغه فلسفه د ګانډي نه زده کړې ده خو حقيقت دا دی
چه باچا خان د ګانډي نه ډير مخکښې نه شل کاله مخکي اصلاحي پروګرام شروع کړی و.



مطلب دلته نه ما دغه دی چه عدم تشدد د باچا خان د هغه شعوري نتيجه ده چه په کوم
مرض لپښتون قوم اخته و. د دې بل هيڅ بل علاج نه و په غير د عدم تشدد نه
چه په دغه فلسفه باندې پښتون راغيل لي شي.

او بل ګاندي عدم تشدد د يوه سياسي آلې په طور د پيرنګي په خلاف استعمال وله.
دا ځکه چه هندو تشدد ديپسند نه و.

او د باچا خان د عدم تشدد فلسفه د خپل قوم د اصلاح کولو لپاره ډيره ضروري وه.

د پيرنګي د شړلو لپاره په بله معنی د هندو مشرانو عدم تشدد د دې لپاره خوښ کړی وه
چه دوی د تشدد جرئت وه نه درلود. خو باچا خان عدم تشدد د دې لپاره خوښ کړی وه
چه د خپل قوم اصلاح پرې وکړي. يعنې تشدد دوی کولی شو خو نه ئې کاوه.
ځکه تشدد د پښتنو معاشره ورانه کړې وه. او هندوانو او هندوستاني ـ
مسلمانانو جرئت نه درلود چه د پيرنګي په خلاف تشدد وکړي. يعنې د دوی په عدم تشدد
سياسي او وختي عقيده وه او د باچا خان اصلاحي عقيده وه.

مطلب دا دی چه ګاندي غوښتل چه د عدم تشدد نه د تشدد د کار واخلي او
پيرنګي مجبور کړي چه هند ترک کړي. خو باچا خان چه عدم تشدد قبول د دې
لپاره و چه د تشدد د هغه ولنې. د هندوانو عدم تشدد يو سياست و او د خدائي
خدمتګارانو لپاره عقيده وه. د ګاندي عدم تشدد د هند د معاشرې د اصلاح
کولو لپاره نه و بلکه د هند د سياسي ګټو او سياسي خپلواکۍ اخستلو لپاره و.



له هر ځنګه چه هندوستاني قوم د پيرنګي خلاف تشدد د نه کولو له ځکه ئې د تشدد
کولو لپاره ئې د عدم تشدد لاره غوره کړه.

او باچا خان عدم تشدد د دې لپاره خوښ کړی و چه د تشدد د هغه پرې ولږي.
ولې چه پښتون قوم خپل کشالې په زور حل کولې چه زور خپله يو تشدد دی.
يعنې د هندو مشرانو هغه سياسي او يو ئې ګټې چه تشدد د ترلاسه کيدلی شوی دوه
ئې د تشدد زور نه درلود. له ځکه چه د تشدد د ښتا د وجهي ئې جوړ شوی
و دوی ورته عدم تشدد سياست راوويست.

خو د باچا خان د عدم تشدد فلسفه جدا وه باچا خان عدم تشدد د تشدد د مقابل
لپاره راوويست. يعنې د پښتنو سره تشدد و خو عدم تشدد نه و.

د هندوستان سره عدم تشدد و خو تشدد نه و. باچا خان ته عدم تشدد
د ټولنې د اصلاح کولو لپاره ضرورت و او ګاندي او کانګريس د سياسي ګټو د ګټلو لپاره
و. همدغه وجه ده چه ګاندي په خپله د قوم د لاسه د تشدد ښکار شو او باچا خان
تر ټوله عمره پورې تشدد پسند قوم تر منځ ژوندی پاتې شو او د تشدد ـ
ښکار نه شو.

د باچا خان ملګري لکه غير بنيانان و ولې چه دی چه خان ـ ملک ـ کذاب ـ پير ـ ميا
او ملا ددې ټولو لځانه غټ بلا ګڼلو د چه هغه پيرنګي و.

چه د دوی او پيرنګي ګټې شريکې وې. د دې په ګټه نه غوښتل چه پښتون قوم آزاد شي
ولې چه په دې کښې د دوی مرګ و.



چه قوم وينښ شي له خلې چه ته تبنستيدلی شي له دې ټول شيانو لاسونه لوځای
مړي و چه د پښتنو قوم جاهل ـ پسمانده او بې خبره وساتي. چه چا به دې
کښې ګوتې وهلې هغه به د دوی دشمن و. هم باچا خان په دغه کښې ګوتې وهل شروع کړل.
له هر طرف نه پرې فتوې شروع شوې. او ـ پيرنګي نما مسلمانانو د کفر
فتوې پرې وکړې او پيرنګي پرې د کمونيزم فتوې شروع کړه.

باچا خان ليکه شپيرو همه نه وه ورکړي خو دوی لږ پوهيدل چه د دوی کار دوی
لپاره مرګ دی. ځکه چه باچا خان د دې مدرسې جوړولو ته نه پريښودله.
حالانکه تعليم په اسلام کښې په نر او ښځه فرض دی. خو دوی دلته د مذهب
لحاظ هم نه ساتلو دا ځکه چه په حقيقت کښې عقيده تا مسلمانان نه بلکه استعماري
مسلمانان و. له ځکه هغه کار چه تمام پرې آباديده د دې کلمې غميدو مشو.
باچا خان غريب اولس راوپيناوه چه خپل حقوق ته بيدار شي چه کوم تر ټوله پيرنګي
او پيرنګي ملګرو وړي وو. له ځکه باچا خان په ليکه وخت کښې د داخلي او خارجي
استعمار ښکار شو.

د دې غوښتل چه خدائي خدمتګار په قهر کړي چه تشدد وکړي او بيا ئې
د دې جواب تشدد وکړي. چه خلک بيا د مړه ويروي چه بيا د سياست
نوم وانخلي. له ځکه چه له پيرنګي افسر و د بل چه عدم تشدد والا پښتون
ډير خطرناک دی له ټبت تشدد پسند نه.

داځکه چې د دې شپې د تشدد د لپاره توجیه د خپل عدم تشدد د لپاره هیڅ نه و.
ډېر ځکه دا چې اسلام نه مخکې پښتانه بده اومت په مذهب و . چه به اوت
چپله د عدم تشدد په بنیاد دی نو ځکه دغه عدم تشدد د فلسفه د -
پښتون په ځمکه کښې وه خو باچاخان بیا ما ژوندۍ کړه .



د پښتنو د تولنیز او لسولیز ګوند لومړی مرستیال علیخان مسود د باچاخان سره

زړه می ځلمی دی او په فکر کښې مستی لرمه
د نوی ژوند په میو تنده ما تولی شمه
د خوشحال خان قلم او توره کښې همتی لرمه
د باچاخان د سور یو بنا نو دود ساتلی شمه
" سنوری "



خبریال : ډاکټر شاجهان

# نوی زیری

**پېښور :** ډاکټر روح الله عمرزی په پېښور کښې تښتول شوی دی . ډاکټر روح الله عمرزی د افغانستان د پخوانی اولسی جرګې د کنړ د پیښتنی د وکیل محمد عمر خان ځوی او د پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند رهشر ډاکټر لیبرستوري ځوری دی او په قوم میر داد خیل دی .

د ګړوال ډاکټر روح الله عمرزی د ۱۹۸۷ ع کال د دسمبر د میاشتی په لومړی نیټه د پېښور د یونیورسټی ټاون په سیمه کښې د خپلی معاینه خانې ( پریکټس ) څخه د ماښام په (۷) بجو د ناوتلو ورشتو وړک شوی دی . د دی لپاره څونی لنډی سباني پیدا شوی دی چې په پېښور کښې د ملا حکمتیار دلی تښتولی دی . په دی لښتون کښې ډاکټر لیبرستوري وویل چه د ګړوال ډاکټر عمرزی بېشان د توري شي بیتولو لپاره د شخصیتونو تښتونه د مرحوم ګوند دی او د ډاکټر روح الله د ژر تر ژر خوشی کولو غوښتنه ئې وکړه .

## لوییز جرمن :

د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند د مشرانو د جرګی په لوبه غونډه کښې داز خوداراد یت اعلامیه د ټولو پښتنو په لوړه وانی تیګار وشو . غونډي زیاته کړه چې پښتانه تاریخي - ژبني - کلتوري - مذهبي - جغرافيائي اقتصاري



وحدت دی . پښتانه د ډیورنډ استعماري کرښه نه مني او غواړي چې په لویه سیاسي دولت ( سټیټ ) کښې راټول شي .

**پېښور :** د روان عیسوی کال د اپریل د میاشتی په (۲۹) نیټه د قیصه خوانۍ د شهیدانو په یادګار کښې د عوامي نیشنل پارټي مشرانو اعلان وکړ چې پښتانه د انګریزانو جوړه کړې د ډیورنډ لاین په هیڅ صورت سره نه مني . وی چې د دې کرښې په ذریعه انګریزانو پښتانه پر دوه ټوټې ویشلي غوښتلي . دا خبری غونډی ته په خپل وار سره د عوامي نیشنل پارټۍ لاړ سری ونکو بشیر احمد ربلور عبداللطیف ( اپریدی ) حاجی محمد ( عدیل ) فضل الرحمن ( اپریدی ) او ذاکرحسین وکړی همدغسې د ۱۹۸۸ ع کال د مارچ د میاشتی په (۱۱) نیټه پښتنو شهیدانو د نښتر خنی پیښی د کرونی پښتون ټولنیز په چارسده کښې په خپله لویه غونډه کښې پریکړه وکړه چې موږ به د پښتنو په لیو وا لی باندی پوره یقین لرو . د پښتنو تر منځ به انګریزي شامراج کښلی کرښې هیڅ ونه منل شي . د باچا خان د جنازی په ورځ موږ د ډیورنډ لاین په عمل کښې د منځه وړی دی .

**پېښور :** د عوامي نیشنل پارټي - پښتونخوا مشر محمد افضل خان ( لالا ) ویلی دی چې عوامی نیشنل پارټي به په راتلونکي ټاکنو کښې پوره برخه اخلی . هیڅ یو سیاسی ګوند د سیاسی عمله څخه نشی بیلولی . د افضل خان ( خان لالا ) وویل چې پرته د



جمعیت اشرای څخه هر یو سیاسي ګوند سره په ټاکنو کښې اتحاد کیدلی شی .

## لوییز جرمن :

د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند جنرال سیکرټری هدایت الله بنګښ په فرنټ ( سره لیو پښتونخوا ) کښې په بنا ر ولو باندی د ټولو غندلو ګوزار ونه غندلی او زیاته کړی یده چې ټولې غندی د وحشت د دښمن - ښنګی نی - واخ او لوډ ایمانو په پېژندل په والتو لوسیر کولو او کور د لوی کښې د غه ټول وش نی . او له د ی کبله د دغه ټولو غندلو د ګوزار د نو عوام قربانی کیږي .

---

## خپل عمل

" اجمل خټک "

کتابونه می ښیل وند او لوستل ‎ حکیمان می د ملکونو او پوښتله
د دی هر څه نه بس د غه قدر پوه شوم ‎ خپل عمل دی که خوازه دی که تراخه

---

## ځوان ته

هغه ځوان چې د وطن په درد سو ځیږی
که سل ځله په مخ لویږي پورته کیږي
ماتری زرځله قربان او صدقه کړی
چې د مرګ په یوله ناست دی لا خوځیږی
" سلیمان لایق "

لیکونکی: ستوری

# د جرمن د ټولنیزې اولسولۍ ۱۲۵ کالیزه

د جرمن ټولنیز اولسولیز ګوند (د جرمن سوشل دیموکراټیک پارټۍ) د روان
۱۹۸۸ عیسوی کال د مئې د میاشتې په ۲۳ نیټه خپله ۱۲۵ کالیزه ولمانځله. ممکن
له دې څخه چې په دې مناسبت د دغه ګوند تاریخ ته څو لنډه کتنه وکړو د
یادونې وړ ده چې ووایو چې په صنعتي هیوادونو کې ټولنیزه اولسولۍ (سوشل دیموکراسي)
د کارګرو د غورځنګ په څېر کښې لوی شوی ده چې د جرمن ټولنیزه اولسولۍ (د جرمن سوشل دیموکراسي)
ئې ګړه لرجوړه وي او د ټولنیزې اولسولۍ (سوشل دیموکراسي) هوډ ګټل کېږي
خو په مختلفو هیوادونو کې چې د سیده او ناسیده ښکیلاک او ځبیناک مناسباتو
د لاندې ژوند کوي او صنعت یې نه وده نده کړې او له دې کبله ډېر لږ کارګر
لري او کارګري غورځنګونه یې کښې نا ستوب دي. په اوسني تاریخي سیاسي پړاو کې
ملي ازادي غوښتونکي غورځنګونه ټولنیز اولسولیز (سوشل دیموکراټیک) خوی لري
چې غوره مثال ئې پښتنه ټولنیزه اولسولۍ (پښتنه سوشل دیموکراسي) ده
چې د باچا خان په غنغنه او دود ولاړه ده او یو سوله غوښتونکی ملي
ازادي غوښتونکی مترقي غورځنګ دی.

## د جرمن د ټولنیزې اولسولۍ لنډه تاریخچه:

د جرمن د ټولنیزې اولسولۍ (جرمن د سوشل دیموکراسي) د ځینو پیدوښنه
۱۸۶۳ عیسوی کال د مئې د میاشتې ۲۳ ورځ ده.



په دغه ورځ په لایپزګ (Leipzig) کښې فردیناند لاسال -
(Ferdinand Lassale) د جرمن د کارګرو شرا شوی ټولنه
(Allgemeinen Deutschen Arbeiterverein - ADAV)
جوړه کړه. فرډ لاسال (Lassale) غوښتل چې کارګر په لوړه څانګه ګوند کښې را ټول شي
ترڅو چې د شرا شوی قانون د حق او پیرا داري اتلي لپاره عملي ګامونه وکړي.




لاسال (Lassale) په خپل ژوند کښې د دغه هدف ته ترلاسه نه کړې ائې شو خو د ده د



مړینې څخه وروسته یو شمیر پلویانو په ۱۸۶۹ عیسوی کال کښې د کارګرو ټولنیز
اولسولیز ګوند (د کارګرو سوشل دیموکراټیک پارټي) جوړ کړی. د دغه ګوند ډیر
نامتو شخصیتونه (شخصیتونه) اګست بیبل (Agust Bebel) او -
ویلهم لیبکنخت (Wilhelm liebnecht) په لاره سړو ونه د جرمن د کارګرو
د شرا شوي ټولنې سره په پښتې چاره کښې یو ځای او په ورځني سیاسي چاره کښې بیل کار
کاوه. په ۱۸۷۵ عیسوی کال کښې دغه دواړه ډلې په ګوتا (Gotha) کښې
سره یو ځای شوي او ورځ په ورځ ئې پرمختګ کاوه خو په ۱۸۷۸ عیسوی کال کښې
په امپراطور لومړي ویلهم (Wilhelm I) برید وشو. د امپراطورۍ لومړي
وزیر اوټو فون بسمارک (Otto von Bismark) دغه برید بهانه
وګرزوله د امپراطورۍ پارلمان (Reichtag) ئې منګ کړ او د کارګرو
ټولنیز اولسولیز ګوند (د کارګرو سوشل دیموکراټیک پارټي) او نورې ټولنې
ډلې چې ټولنیزې (سوشیالیستي) خوی لرو بندې کړې. د ټولنولۍ والو (سوشیالیستانو)
په ضد دغه قانون د دولت کاله دوام وکړ که څه هم لومړي د دوو کلونو د پاره
منځ ته راغلی و خو بیا بیا اوږد دیده. د دغه قانون د پای ته رسید وروسته
په ۱۸۹۰ ع کال کښې د کارګرو ټولنیز اولسولیز ګوند (د کارګرو سوشل دیموکراټیک پارټي)
د جرمن د ټولنیز اولسولیز ګوند (د جرمن سوشل دیموکراټیک پارټي) په نوم د
سالي - (Saale) د سیند په غاړه د حالي (Halle) په ښار کښې د نوم نومول شو.
بیا وروسته په (۱۸۹۱) عیسوی کال کښې په ارفورت (Erfurt) کښې



د ګوند یو نوی پروګرام پاس شو چې مسوده ئې کارل کوتسکي (Karl Kautsky)
او اډوارډ برنشټین (Eduard Bernstein) کړې وه او د ټولنې په
مارکسیزم تحلیل ولاړ و. د دغه وخت راهیسې د ګوند د نظري جوړې ونکو
ترمنځ د ځینو اختلافونو شروع شره. د جرمن ټولنیز اولسولیز ګوند (د جرمن
سوشل دیموکراټیک پارټي) پرله پسې غښتلې کیده چې د غړو شمیر ئې د یو میلیون څخه
زیات شو او د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه لږ څه د مخه ئې د امپراطورۍ د پارلمان په
ټاکنو کښې په سلو کښې 35 رایې ګټلې وې.

د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته د نازیانو په وخت کښې د جرمن ټولنیز او
لسولیز ګوند (د جرمن سوشل دیموکراټیک پارټي) یو ازاد ډله وه چې په ۱۹۳۳ ع
کال کښې د هټلر دولت د قانون په ضد رایې ورکړې. بیا دغه ګوند د نازیانو
ښکار شو او جلاوطنۍ کښې لومړی دپراګ او وروسته د لندن څخه کار کاوه.
د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته کورت شوماخر Kurt Schumacher
په اوسني لویدیز جرمن کښې ټولنیز اولسولۍ والان بیا منظم کړل او د جرمن ټولنیز اولسولیز
ګوند (د جرمن سوشل دیموکراټیک پارټي) ئې بیا جوړ کړ. خو په اوسني ختیځ المان
کښې د اوټو ګروتیول (Otto Grotewohl) د مشرۍ لاندې هغه اوسیدونکو
ټولنیز اولسولۍ والانو (سوشل دیموکراټانو) د کمونست ګوند سره اتحاد وکړ.

په 1909 عیسوی کال کښې په ګودسبرګ (Godesberg) په
یوه فوق العاده ګوندي کنګره کښې یو نوی بنسټي پروګرام پاس شو چې دغه

ګوند ئې يو اولسي ګوند وګرځاوه. نن ورځ د جرمن ټولنيز اولسولېز ګوند
(د جرمن سوسيال ديموکراټيک پارټي) په لويديځ جرمني کې لوى سياسي ځواک دى
چې (23) کاله، د ۱۹۸۷ کال تر پورې ولي براندت (Willy Brandt)
ئې مشري په غاړه لرله او هڅه کوله ئې ده. ولي براندت (Willy Brandt)



اوس د جرمن د ټولنيز اولسولېز ګوند
(د جرمن سوسيال ديموکراټيک پارټي) افتخاري
مشر او د ټولنيزو نړيوالې (سوسياليستي
انټرناسيونال) مشر او د نړۍ يو پياوړى
شخصيتوب (شخصيت) دى.

(( ولي براندت (Willy Brandt

د ټولنيز عدالت د منځ ته راوستلو لپاره ټولنيز ټولنې (سوسياليزم) ته د دوه لارې
بېلې شوې دي چې يوه ئې اولسولېزه (ديموکراټيکه) او بله ئې د کارګرو د ټولنو
لاره ده. د کارګرو د ټولنو د لارې پلويان د پارلماني ټولنيز (سوسياليزم)
بې طبقاتي ټولنې (کمونستي ټولنې) ته د اوښتلو پيل وه دى. په دې پيل وکې -
خصوصي ملکيت د منځه ځي او د توليد وسايل شرکتونو او سياسي
قدرت هغوى ته ورګرځي چې ځانته د کارګرو د عدالت ښه بنسټ واټې
په لاس ورکول کېږي.

د اولسولېزې (ديموکراټيکې) لارې پلويان بيا په دې عقيده دي چې د



توليد ټولو وسايلو شرکتونو ته حاجت نشته دى او خصوصي ملکيت
د ټولو حق لري خو چه د ټولنيز عدالت په مخه کې خنډ نه وي. د دې هر
ډول د ټولنو او ګوندونو حاکميت رد دى او د اولسولېزې (ديموکراټيکې)
لارې د ټولنيزې (سوسياليستي) ټولنې هڅه کوي چې هر څوک يکني پرانيزانه
توګه خپل سرميتوب ته وده ورکړي او د انسانانو په خدمت کې د ټولنې په سياسي
اقتصادي او کلتوري ژوند کې برخه واخلي.



هانس يوخن فوګل (Hans Jochen Vogel)

د جرمن ټولنيز اولسولېز ګوند (سوسيال ديموکراټيک ګوند) د اولسولېزې ټولنې (ديموکراټيک سوسياليزم)
غوښتونکى دى چې د ۱۹۸۷ کال راهيسې هانس يوخن فوګل (Hans Jochen Vogel)
مشري په غاړه لري.



ليکوونکى: هدايت منګښ

# د جبري مرکه

سمندر کاکا په حجره کې ناست دى. لوړى او غزني د دارې خاموش ورشوه ده
په دې منځ کې سرتور (سرمنوتکي) او ستومان (سرمنوتکي) د پېښور څخه راځي.

سمندر: ستړي مه شي په خير راغلي راځئ د کته کټ کې کېنئ.

لږ په خوړ ورو وروسته چاى راوړې کاکاګان د لره څه راغلي دي.

سرتور: چارا نه دې پرون د اشرکړه و څرنګه تېر شو؟

سمندر: ښه تېر شو. په پېښور کې څه حال و؟

سرتور: په پېښور کې د ګډوالي په کمپونو کې دې کېل چې د افغانستان
مسئله حل کېږي. د پاکستان او افغانستان ترمنځ کې ميده او امريکا او -
روسيې ئې ضمانت کړى دى.

سمندر: چا د چا ضمانت کړى دى؟

سرتور: د ضمانت نه مقصد دا دى چې د افغان حکومت مخالفو ډلو ته به
وسله نه ورکول کېږي.

سمندر: امريکايانو ويلي دي چې مونږ به تر هغه وخته وسله ورکوو تر
څو چې د افغان حکومت ته شوروي وسله ورکوي. لږ دا څرنګه ضمانت دى چې
وسله هم ورکوي او ضمانت هم کوي؟



ستومان: سمندر کاکا! راډيو خو به اورې؟

سمندر: وره که رښتيا دي نو دا يم لږ اورم خو اورم مې خو څه راته
نه راکوي.

ستومان: ولې څه چل دى؟

سمندر: وره په دې پوهه نشوم چې څه وخت پښتو خپرونې وي او څه وخت
فارسي. زما مشکل دا دى چې په فارسي نه پوهېږم. او کابل راډيو څه خپرې پښتو
ورکړي او بيا ورپسې فارسي شي.

مړه يوه شرط ده چې شپې ورته ورځ تنګ شي.

ستومان: زما دې هم دغه خبرې ته فکر کړى دى ځکه د افغان اولس اکثريت په پښتو
او فارسي پوهېږي او دواړو ژبو نه پوهېږي.

او ډېر داسې لږ کوم خو هيڅ په فارسي نه پوهېږي، ورما او ريدلي دي چې په
ايران کې د افغاني کډوالو لږ کوم هيڅ په پښتو نه پوهېږي.

سمندر: دا خو لويه لانجه ده دا به څرنګه حل کېږي؟

ستومان: نه دا خو ډېره اسانه ده افغاني راډيو ته پکار دي چې د پښتو
د راډيو غږونو د پروګرامونو وختونه بېل بېل ورکړي.

او کابل راډيو په پښتو او فارسي بيلي بيلي خپرونې خپرې کړي.

سمندر: ډېره دا خو به ډيره ښه شي. ايله به ټولې د ډيرې ګټې د خپلې شي.

خبریاله: نسرین

# رښتیا، رښتیا دي

دا د هغه کتاب نوم دی چې د پښتنو ستر مشر ولي خان لیکلی او په ۱۹۸۷ م عیسوي کال کښې د کابل په دولتي مطبعه کښې چاپ شوی دی. په دغه کتاب کښې



ستر مشر ولي خان



د پیرنګیانو د خفیه کاغذونو او اسنادو څخه استفاده شوې ده. د محرمو خفیه اسنادو اصلي متن هم په انګریزي ژبه د پښتنو په خوا کښې لیکل شوی دی. د پیرنګیانو دا قانون دی چې کوم خفیه - کاغذونه دیرش کاله وروسته وي نو هغه بیا د دې پښتنو او باشو او خپاره ئې د لوستلو او نقل اخستلو اجازه کا دي.

د کتاب د پښتونه تمام لپاره ډیره ستره پانګه ده. د دوهم مشر - اجمل خټک چې د ملي مشر ولي خان سره د ژوند په خوږ و تریخ وختونو کښې ملګری دی د دې کتاب په شریزه کښې داسې لیکلي "ولي د کتاب په دنیا کښې هم د خپل سیاسي ژوند - فکر - مبارزې او پت شهرت ... او د عملیه ئې قلم په لاس هم د هغه محبوبا نوازش کړلو د کومې لپاره چې د دې کښې په شي د قومي اتحاد د جنګ میدان کښې ولاړ و. ځکه چې د دې پوهیږو چې د قومونو د اتحاد - شوکالې او خوشحالۍ منزل ته د رسیدو لپاره که په لاس کښې توره پکار ده نو چې په لاس کښې قلم. که د تن و بیني تو ... د ذهن د روح هم به سامان پکار وي. د دغه مینه، شوق او ارمان کښې ده دیر کتابونه د لوستلو او د سیاست د میدان دیر مدبر قهرمانان ئې و لیدل دي کوم کښې دی په سنه ۱۹۵۷ وم عیسوي کال کښې د لندن انډیا افیس لایبریرۍ ته ورسیدلو او د لته دې ته د پښتنو په ژوند، سیاست تاریخ - کلتور، ادب او د هیواد د نفسیاتو هغه کتابونه، تکړه



او د ستاوري ونه پرګوته باغلو چې مل ځای مونډلی نشولو.....

نو بیا دې تعقیبا هر کال چې د جیل نه بهر و دی پښې به لندن ته تلې او دغه لایبریرۍ کښې به دغه شي کار ته مصروف ته اسنادو او کتابونو سره مشغول و. دلته دا د خپل کار او هدف (مقصد) د پاره ډیر مواد پیدا کړل د هغه نه ئې ستونزه هغه یادداشتونه په خپل قلم را نقل کړل او بیا چې کور کلي یا جیل خانه کښې به ورته خالي وخت پیدا شو نو - دغه یادداشتونه ئې د یوه کتاب په شکل مرتب کړل"

---

## د ژوند ستا

"ستوري"

ژوند چې وي ژوندی له حرکته بیلیږي نه شي
مرګ هغه ژوندون دی چې له ځایه خوځیږي نه شي
ساده ژوندی ژوند په حرکت کښې ما لیدلی ده
بې له حرکته ژوندون نه شته ژوندکیږي نه شي
ځکه دا منم چې حرکت کښې پروت برکت دی
ګوزن نه ګیږ به، له زمري چې پاڅیږي نه شي
مه دریږه روان او سه هدف ته به رسیږي نه
هغه به نه خوسا شي چې اوبه ئې بهیږي نه شي
څوک چې خپل قسمت د بدلیدو اراده نه کړي
بیکه دا ازل ئې پخپل حال وي بدلیږي نه شي
برخه د قسمت که بدلوی نو پښې وګرزه
ورکه پښې نه شي بلا غېږې ته را تلای نه شي
دادي حرکت ستوري د ګوتو، د قلم نه دی
ګیني دا قلم ځانته پخپله څه لیکي نه شي

خبریال: همایون

# د پښتنو د لوټنیز او لټونیز ګوند د مشر ډاکټر لطیف ستوري سره مرکه

**پوښتنه:** د ژبې نیو په تړون کښې تاسې څه نظر لرئ؟

**جواب:** زمونږ د سیاست تل دا دی چې شوروي لښکرونه دې ووځي. او د افغانستان د بحران د ستونزې له لارې حل کیدای شي.

د ستونزې په مختلفو شولو کښې مختلفې لارې شته دي چې مونږ په دې کښې خپل له پښتونه نړۍ والو ته څرګنده وړاندې کړې ده.

د ژبې نیو تړون د ځانمتوالي په شوي د ستونزې د حل لوی برخه ده. خو تر هغه وخته پورې چې دغه تړون تر عملي نه نو ځکه له خوا چې تړون ئې داسې کیږي کړې د عمل جامې نه اغوستل کیږي نو دا هر د کاغذ لوی ټوټه ده او هم به تر پاتې دي.

**پوښتنه:** تاسې ته معلومه ده چې پاکستان د دې هېلې ګرځولي چې د دې بین تش په نامه کړ نه د ژبې نیو په تړون کښې ګډولي

تاسو په دې هکله څه نظر لرئ ؟

**جواب:** د ډیورنډ مسئله د ټولو د تیرو شو هیڅ دول نه پښتونو نه ده. لومړی داچه دا تړون په نامه کر سره د انګریزي استعمار بقایاده چه زمونږ په زور کښې دغه دول استعماري بقایاد اعتبار ه لویدلي دي او له منځه تللي دي.

بله داچه دغه تړون ځي د پښتنو اولسي کار ده او د هغو صنو لي صلاحیت او واک نه دي. هم دا افغانستان د جمهورو چارو وزیر عبدالوکیل هم په ژنیو کښې پنځه نیوه مطبوعاتي اعلامیه کښې ویلي دي چه دا د انګریزي استعمار بقایاده چه هیڅکله د افغان اولس له خوا منل شوې نه ده او د افغانستان د حکومت له صلاحیت نه وتلې ده.

د دې کبله چه د ټولو په تمه ون کښي او یا په لوړه وتم دلته کښې په دې هکله څه لیکل شوي وي او یا ولیکل شي له دغه زمونږ د ګوندي لیاره چه د پښتنو د اولس نمایندګه دی او نه د پښتنو اولس لیاره چه تاریخي - جغرافیائي اقتصادي مذهبي - کلتوري وحدت دی اعتبار لري لي شي.

د افغان اولس هیڅکله دغه تش په نامه کرښه نده منلي او نه به ئې ومني.

زمونږ ګوند دا دې عقیده لري چه دغه بړه د تاریخي بشوالتو او د پښتنو د ازاد خوداراديت له لارې حل شي.



**پوښتنه:** ایا کوم وال موږ ته خپلو کورو ته ستانه شي ؟

**جواب:** زمونږ په دې باندې باور لرو چه کوم وال ما خپلو کورونو ته ستنیږي. خو په دې شرط چه اعتماد ئې حاصل شي او هغلته ئې ټول حقوق - تاریخي ئې وند تضمین شي. خو دا په منه لوګه د جرګي له لارې کیداي شي.

سره به دا د ئې چه دغه جرګه د مکلي و ملتو د شرعه لاندې د پښتونخوا په ازاده سیمه کښې وشي. په دغه جرګه کښې پکار دي چه د ګډوالو د بیرته تګ او ځای په ځای کیدلو هو شائي او ستوکانه باندې خبرې وشي او په ګډه سره د دې لیاره لي پروګرام جوړ شي.

**پوښتنه:** د افغانستان تاریخي لیاره تاسو څه فکر لرئ ؟

**جواب:** افغاني ټولنه یوه پلو تالیکتي (د دیرانی خیزه) ټولنه ده لو د دې کبله په افغانستان کښې لوګوند یز او مطلقه سیستم چلیدل نشي چه دا خبره په عمل کښې په ثبوت رسیدلي هم ده. لو په افغانستان کښې زمونږ په عقیده یوائې ډیر ګوندیزه پارلماني دیموکراسۍ چه د ازادي تاکنې د لارې منځ ته راغلي وي چلیدل او ټینګیدل شي. خو دا باید رښتیائي ډیر ګوندیز سیستم وي او هیڅ دول چل ول او په مختلفو بڼو کښې انحصار پکښي نه وي. هرګوند ته چه د افغان اولس د ګټو لیاره کار کوي د فعالیت اجازه وي.



## ستیل

مالیدلی د فرنګ سبکلي جمعان ونه | چه د الندي تري غوړ رنګ ځي سیندونه
مالیدلي محلونه د لندن | جینکي مستي ازادي ګل بدن
مالیدلي د اټلي ښکلته ښار ونه | شره ئې انګور سره ئې شراب او سره ګلونه
مالیدلي د پیرس ښاپیرۍ ښکلي | په کردار ګفتار خوږ ي لکه بلبلي
مالیدلي امریکه کښې دې ښار ونه | چه ور پېژنئ ته ئې رسي ستکالونه
مالیدلي تاج محل غوټه د ګلو | دهلي ښکلي ښارونه د مغلو
خو چه وو وینم زه خپل دختو کور | نه هیر شي محلونه ښیستنه لور
دا نري تنګي کوڅې زما د کلي | ور ته څه دي د دنیا ښار ونه ښکلي
چه خوږ ئې وي ورو پښتون ښي له دې | د ره نه هیر به څول خائیت د بمرورشي
خدای شکر چه پیدا دي له دې قام کړم | د پښتون د ښ وجود دي لوانداړ کړم
څه به کړم د لندن لوي محلونه | د پیرس جوړي ښایستنه ور ونه
په والله چه له جنته به شرم تنون
چه کنځل پکښي وا لورم د پښتون

"غني خان"




که سپوره وي که پوره وي په شریکه به وي
(باچاخان)

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*